**بسم الله الرحمن الرحيم**

## د وفات شوي کس قضايي روژه راګرځول

**(ژباړه)**

**«عن ابن عباس رضي الله عنه قال: جاء رجل إلى النبي صلى الله عليه وسلم فقال يا رسول الله إن أمي ماتت وعليها صوم شهر أفأقضيه عنها؟ فقال: لو كان على أمك دين أكنت قاضيه عنها؟ قال: نعم. قال: فدين الله أحق أن يقضى.** (صحيح البخاری)

***ژباړه:*** *له ابن عباس رضی الله عنه څخه روايت دی چې وايي؛ رسول الله صلی الله عليه وسلم ته يو کس راغی او ويې ويل: اې رسول الله! مور مې وفات شوې ده او يوه مياشت روژه ورباندې پاتې ده، ايا زه د هغې لخوا روژه ونيسم؟ رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: که چېرې دې پر مور باندې پور وای، هغه دې ورکاوه؟ سړي وويل: هو. رسول الله صلي الله عليه وسلم يې وفرمايل: د الله دَين تر ټولو ډېر د دې وړی دی چې ادا شي.*

دغه حديث موږ له هغې موضوع څخه خبروي، چې زموږ ځينې کسان يې ښايي په اړه معلومات ونه لري. دا موضوع هغه دَين دی چې زموږ پر غاړه دی، خو موږ يې پر وړاندې بې‌پروا يو. دا واضح دي چې د مړي د قرضونو ادا کول د هغه د وارثينو غاړه دي او دا پر بنده د بنده حق دی او روژه پر بندګانو د الله سبحانه و تعالی حق دی چې د مړي وارث يې بايد ونيسي. دغې پوښتنې ته د رسول الله صلی الله عليه وسلم د ځواب ورکولو طريقه په حديث شريف کې بيان شوې ده. رسول الله صلی الله عليه وسلم ځواب ورکړ، چې که چېرې پر يوه کس روژه فرض شي او د يوه شرعي دليل له امله يې تر مرګه ونشي نيولی، نو وارث يې بايد د دغې روژې قضايي راوګرځوي، ترڅو تکليف يې د وفات شوي کس له غاړې واوړي او د قيامت په ورځ د الله تعالی په حضور کې دليل ولري او مرسته ورسره وکړي.

موږ بايد پوه شو چې که چېرې موضوع د الله تعالی په حق پورې تړاو ولري، نو پر موږ واجب دي چې د ميت پر ځای يې ادا کړو؛ په داسې حال کې چې موږ ژوندي وو او دغه حق زموږ پر غاړه وي. ايا دا زموږ لپاره مهمه نه ده چې په هغه کې بې‌پروايي ونه کړو او د الله تعالی په حضور کې داسې دليل ولرو، چې موږ د دوزخ له اور څخه وژغوري؟ په دغه حديث شريف کې يو ټکی شته دی، چې بايد پام ورته وکړو او هغه دا چې الله سبحانه وتعالی خپلو بندګانو ته ښښنه کوي او عملونه يې قبلوي؛ مګر هغه څوک چې د فرضونو په ادا کولو کې بې‌پروايي کوي، هغوی نه ښښل کېږي او نه هم د ښښنې وړ ګڼل کېږي. اوسمهال هغه کسان بيخي ډېر دي، چې د الله تعالی د احکامو، شريعت او عبادتونو په ترسره کولو کې

بې‌پروايي کوي؛ نو د هغو مسلمانانو به څه حال وي، چې حتا د الله تعالی لخوا پرې د فرض شوو عملونو او هغو قضايي عملونو په اړه فکر هم نه کوي، چې قضايي يې بايد را وګرځوي؟

پر همدغه اساس پر موږ واجب دي چې په دغه حديث کې تدبر وکړو او وړاندې ترې دې چې د الله تعالی په حضور کې د خپلو قصدي او غيرقصدي تېروتنو په سبب محاسبه شو، پخپله بايد له ځانونو سره حساب وکړو؛ څکه موږ تل دغه فرصت نه لرو چې خپل ګناهونه او تېروتنې دې جبران کړو. له همدې امله هر هغه مسلمان چې د بندګانو او يا د بندګانو د رب حق يې پر غاړه وي، بايد خپل پخواني ګناهونه د هغو عملونو په ترسره کولو جبران کړي، چې د ګناهونو د کفارې لامل کېږي او د توبې، د نېک عمل د ترسره کولو او له ګناهونو څخه د لرېوالي په برخه کې بايد هڅې وکړو.

يوازې له الله سـبحانه وتعالی څخه غواړو چې له موږ سره د ګناهونو په جبران کې مرســته وکړي، موږ ته هدايت وکړي، زموږ د دين ســاتنه وکړي او زموږ لپاره توبه اســانه کړي او زموږ ټول مخلصــانه عملونه قبول کړي! دغه کار الله تعالی ته ډېر اسان دی.

**ليکوال: دوکتور ماهر صالح**

**ژباړن: صهيب منصور**